# د افغانستان

# د قضيې د حل په هکله نړيوال پېشنهادونه او زمونږ دريځ

Ketabton.com

ابو خالد عبد رب الرسول سياف

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# موږ ولی (نه) ویلی دی!؟

کوم جهاد چی په افغانستان کسی ددیارلسو کلو څخه راپدیخوا جریان لری، دهغه لوی مقصد په افغانستان کی دیوه سوچه اسلامی نظام قایمیدل وو اودی، چی البته پدی هکله هیڅ مسلمان ددنیا په هیڅ گوټ کښی له موږ سره اختلاف نلری .

بیا بالخاصه هغه کسان چی دوسله وال جهاد له شروع کیدو څخه پخوا دیوی اسلامی ټولنی اویوه اسلامی نظام د مینځ ته راتلود پاره یی دعوت چلوه ، هغوی ددی جهاد په هرقدم اوهرپړاوکښی داخبره دیوه سترنصب العین

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حیث دخپلو سترګو په وړاندې درلوده اواوس یې هم لري .

یا په بل عبارت څوک چه داسلامي نظام اود اسلامي ټولنې دجوړیدو لپاره دعوت چلوي اویا جهاد کوي نو ددعوت اوجهاد دلارې په اوږدوکښې به هم داسلامي اصولو اومقرراتو التزام کوي اوداسلام دلارې څخه به بهر قدم نږدي .

لدې کبله نومونږچه دجهاد داستمرار یا دقضیې دحل دپاره کله هم کوم کار کوو په هغه کښې باید د اسلام داصولو ، احکامو اوضوابطو مراعات وکړو اودسیاست اومصلحت په نامه په خپلو دریځونواومواقفو کښې داسلامي لاربښونو پابند اوسو او ورڅخه تیرې ونکړو ،ځکه چې داسلام دچوکاټ څخه بهرمصلحت نشته پدې اساس موکه تراوسه څه مواقف نیولي او یامو له مختلفو پیشنهادونو سره برخورد کړې دې هغه مو د اسلامي وجیبې په اساس داسلامي اصولو اواساساتو په تله کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اچولی کوم ته چه اسلام اجازه ورکړی دهغو مواستقبال اوهرکلی کړی دی اوکوم ته چی اسلام اجازه نده ورکړی هغوته مو (نه) ویلی اوپر خلاف یی دریدلی یوبناء په مختصر ډول ویلای شو چی مونږ دافغانستان دقضیی دحل په رابطه اوهمدارنگه دژوند دنورو اړخونو په هکله داسلامی دندی اومسئولیت په بنیاد دشریعت په منطق غږیدلی یو اوالله جلت عظمته ته دعا کوو چی وروسته لدی هم ددی توفیق راکړی .

اوس به دافغانستان دقضیی په ارتباط په دنیاکښی مطرح مختلف وړاندیزونه اوطرحی دلوستونکو په مخ کښنی کیږدو بیابه دوی ته دقضاوت حق ورکړو چی مونږ ته مشوره راکړی چی دهغوپه وړاندی دیوه مسلمان په حیث ( هو ) ووایو که (نه) .!؟

۱ – کمونستانو سره دناستی ولاړی یا دافغانانو دداخلی خبرواترو له لاری دافغانستان دقضیی حل .

۲ – مختلط اوگډحکومت جوړول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

طرف حکومت جوړول .

۳- بی طرف حکومت جوړول .

٤- براه‌ییس یادلویی قاعدی حکومت جوړول .

۵- روسانوسره دافغانستان دراتلونکی په باب خبری کول .

مونږ دغو ټولو پیشنهادونوته « نه » ویلی دی .

نواوس به دا پیشنهادونه یوپو داسلام په تله کښی واچوو بیابه وگوروچه داسلام دمقرراتو په رڼاکښی ددغو پیشنهادونو له جملی څخه دکوم یو په هکله د(هو) ویلو مجال اوامکان شته دی کنه ؟

## ۱- کمونستانو سره ناسته ولاړه اودبین الافغانی مذاکراتوله لاری دافغانستان دقضیی حل .

دبروخلکوپخواهم ویلی اودا اوس یی هم وائی چی پیغمبرصلی الله علیه وسلم له کفارو اومشرکینو سره ناست دی خبری یی ورسره کړی اوقراردادونه اوسولی یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلاحکم لري . له کافراومشرک سره خبرې اترې کول، قراردادونه لاس لیک کول، خرید اوفروش او په ټولیزو چاروکي پیش آمد جایز دی ولی دمسلمانانو په کورنیو چارو اوجهاد اوملک دسرنوشت په ټاکلوکی له هغوی سره تعامل اومفاهمه مطلق حرامه ده .

خومرتد اوزندیق سره خبرې کول ناسته ولاړه اونورتعاملات ټول حرام اوناجایزدی . له زندیق څخه توبه هم نه غوښتلی کیږي اومخامخ وژل کیږي اومرتد څخه تر دری ورځو پورې توبه غوښتله کیږي که یې توبه وکړه بنه اوکه نه هغه هم وژل کیږي ، او ښځه یې ورڅخه جلا کیږي - اودا دواړه ډلې دژوند حق نلري .

نورکومو کسانوته چې اسلام دژوند حق ندی ورکړی اوکه ژوندی پاتی شی نود هغو سره یې مقاطعه اوپریکړه واجب کړې ده اودعادی تعامل اجازه یې هم نده ورکړې نوموږ په کوم دلیل هغوی ته داحق ورکړو چه دملک دسرنوشت دټاکلو په باب راسره کیني اوخبرې وکړي؟ که

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوك كولای شی چه په یوه کتاب یاپه یوه مذهب کښی
ددی کارد جواز لپاره کوم دلیل پیداکړی هغه دی مونږته
را په گوته کړی !

## کمونستان په دوه ډوله دی :

**الف** – هغه کمونستان چه اصلاً کافران دی له دوی
سره خبری اواتری اوقراردادونه په عادی امورواوهغو
چاروکښی چی دمسلمانانو ځانگړی اوداخلی امورندی جوازلری.

ب – هغه کمونستان اوملحدان چه اصلاً مسلمانان دی
خوبیاکافران شوی – دوی یامرتدان او یازندیقان دی
اوپه افغانستان کی دخلق ، پرچم ، شعله جاویداونورکوم
غیراسلامی گوندونه چی دی دهغوافراد ټول مرتدان
اوزندیقان دی . بلکه عادی زندیقان اومرتدان هم ندی
دوی یوازی له اسلام ځخه په اووښتو اکتفا نده کړی
بلکی دکفر اوارتداد په لوریي دعوت چلولی اوداسلام په
خلاف یی مبارزه کړی ده اوددی مسلمان ولس په لکو
نومسلمان وگړی یی د مسلمانی په گناه وژلی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږدوی سره دناستی په هکله یادبین الافغانی مذاکراتو اوډیالوګ په هکله( نه ) ویلی دی اوس تاسو داسلام په چوکاټ کښی راته ووایی چی مونږ پدی کښی د(هو) ویلو حق درلود که(نه؟)اودا( نه) مو چه ویلی رواکارموکړی اوکه ناروا؟ اوهغه کسان چه مونږته وایی چه ددښمنانوسره دخبرواترو له لاری دامشکل حل کړی،نه تنها چی غواړی مونږ داسلامی خط اولیکی څخه بیرون وباسی بلکی غواړی چه دافغانستان ددی تباهی اودلکونوکسانو دوژل کیدو اودروسانو دپوځ دمداخلی په اثرددی ولس د پت اوعزت د پامالیدوجرم هم زمونږ غاړی ته راواچوی ، داځکه چه سبا ته به خلك وایی چه که ددی قضیی حل دخبرواترو له لاری رواکاروونو داخبری اتری خو دترکی اوامین اوببرك په وخت کښی هم پیشنهاد شوی وی نوهلته مو ولی موضوع په دغه طریقه حل نکړه اوملك موولی تباه کړ؟ اوداځل موولی دا دیارلس کاله وځنډاوه ؟اوکه داکار په هغه وخت کښی ناروااو اوس په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم دلیل روا شوی دی آیا تاسودحرامو دحلالو حق لری نوزمونږځواب به بیا څه وی !؟

## ۲- ګډ اومختلط حکومت :

ځینوخواومونږته دمختلط حکومت دجوړولو پیشنهاد کړی وو مونږ پدی کښی هم (نه) ویلی دی داځکه چه نظرمخکنیو دلایلوته دکمونستانوسره چه داناستی ولاړی روانډی نوپه حکومت کی دشاملولو اودتصمیم نیولو په مراجعو کښی د هغوی د شریکولو جوازبه یی له کومه پیداشی؟

کمونستان ، مرتدان اوزندیقان خولاڅه کوی چی عادی کافران هم په حکومتی منصبونو اواسلامی ملک دتصمیم ګیری په مرجع کی اودوزارتونو اوریاستونو په رأس کښی چی ترلاس لاندی یی مسلمانان وی دشاملیدو حق نلری که څوک وایی چه داکار جواز لری نودیوه کتاب په حواله اویادیومجتهد دقول په اساس دی زمونږسره خبری وکړی مونږئی مناقشی ته حاضریو.

ځني خلك وایی چه دوه دری کسان موقتاً درسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیسي بیابه یي لري کړی مونږ. وایو چه دهمدي جواز څوك رابنسودای شي چي داکار روا اومباح دی؟ .

کله چي دمرتد ، زندیق اوکافرشامليدل په اسلامي حکومت کښي ناجایزوی نوبیا دیوه اودوو اولسو هیڅ فرق نشته . « ولن يجعل الله للكافرين على المؤمنين سبيلاً»

نو همداځای دی چي دیوه منگی زرڅاڅکی پاکی اوبه په دوه څاڅکو نجاست باندی له کاره وزی چي بیانه دڅکولو وی اونه دپریولو اونه داوداسه .

دحکومت جوړول په اسلام کښي یوه اسلامي وجیبه ده دا کوم خاص دنیاوی کارند ی، پدی کښي مونږ معین اوټاکلی تعلیمات لرو بلکی دلمانځه په صف کښي که یوملیون کسان ولاړوی نو یوسیك اوهندو ته هم ددی اجازه نشو ورکولای چه راسره ودریږی په همدی ترتیب داسلامي حکومت دمسئولینو په ردیف اودآمرینو په صف کښي کافر نشي استخدام کیدای اوپه کوم ځای کښي چه که کافران استخدام شوی هم وی ځني حسابي اوتخنیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اموروته هغه هم د اجیرپه صفت نه دامر په صفت .

## ۳- بی طرفه حکومت :

مونږ بیطرفه حکو مت ردکړاوداڅووجهی اوارخونه لری :

۱- په بیطرفه حکومت کښی دمجاهدینو اوددوی دمخالفینو موافقه شرط ده اودیوه اسلامی ملک دحکومت په جوړولوکښی د کافرو موافقه شرط گرځول ناروا کاردی بالخاصه هغه کسان چی شرعاً د ژوند حق نلری هغوی ته به څرنگه داحق ورکړل شی چی زمونږ د ملک دحکومت په جوړیدو کښی د دوی موافقه شرط شی؟

۲- له کمونستانو سره په بی طرفه حکومت مفاهمه او روغه جوړه کول له هغوی سره غیر مستقیمی خبری اتری کول دی حال داچه نه تنها چی دا شرعاً نا روا معامله ده بلکی مونږ هم باربار د ټولو تنظیمونو لخوا په یوه اتفاق سره ددی کارسره خپل مخالفت څرگند کړیدی .

۳- د بیطرفه حکومت عناصر پیژندل شوی خلک دی اوکوم لست چی دهغو جوړشوی دی په هغه کښی شامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومونه مونږ. ته معلوم دی یو زیات تعداد یی هغه خلك دی چی ددی ملك د تباهی،سبب گرځیدلی ددین لمن ددوی په لاس تموله شوی اودا اوسنی واکدار کمونستان د دوی په غیر. کښی لوی شوی دی ، او اکثریت ئی د غربی کلتور، ثقافت اوطرز فکر څخه متأثر دی او اسلام د یوه کامل نظام په حیث اود اوسنی ژوند د ضرورتونو د رفع کولو د پاره مناسب نه بولی او حتی اکثریت یی دا وایی چی د اسلام له سیاست او اقتصاد سره څه ؟ اود ځینو نورو انحرافات خویبی د قلم د عفت د ساتنی په خاطر هم نشو یادولای .

٤- بله داچی دوی د اسلام اودکفر ترمینځ جنگ کښی ځان بیطرفه گڼلی اوڅوك چی د اسلام اوکفر ترمنځ ځان بیطرفه گڼی هغه په خپل ځان د کفر شاهدی وایی په داسی جنگونو کښی انسانان په دوه ډلو ویشل کیږی :

(الذین آمنوا یقاتلون فی سبیل الله والذین کفروا یقاتلون فی سبیل الطاغوت ) یعنی مؤمنان دخدای په لیارکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اودشیطان پیروان دطاغوت په لارکښې جنګیږي .

۵ - دوی دملك د آزادولو په ارتباط هیڅ ډول دمسئولیت احساس ندی کړی او اوس په تیاره راغلی اودحق دعوی لري ، دوی د جهاد فریضی ترك کونکی اودجنګ له ډګر څخه تښتیدونکی افراد دی ، دوی شرعاً د مسلمانانو د امارت وړ او اهل ندی .

۶ - ددی ملك سرنوشت باید هغه خلك وټاکی اوهغه خلك یی باید دچارواګی په لاس کی ولری کوموچه یی دآزادی په لاره کښی وینی او خولی توی کړی دی - الغنم بالغرم - مزد آن ګرفت جان برادر که کارکرد !!

۷- بیطرفه حکومت ددغو دوو مسلحو زواکونو (مجاهدین اوکمونستان) په سر سیطره اوسلطه نشی قایمولی، او نه امنیت اواستقرار رامینځ ته کولای شی !

۸- بیطرفه حکومت به دهغو شیطانی طاقتونو غلام اولاس پوڅی حکومت وی کوم چی د دوی دراوستو په هکله یی کوششونه کړی دی اوفعلاً هم جریان لری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- مونږ داجهاد د یوه اسلامی نظام د قایمیدو پخاطر پیل کړی دی اوداخلک چی په بی طرفانو ئی شهرت موندلي دوی نه په صحیح اسلام پوهیږی اونه یی راوستلای شی .

اوچاچي اسلام په خپل ژوند اونژدی چاپیریال کښي نوي پیاده کړي نو په هیواد کښي به یي څنګه پیاده اوقایم کړي ؟

## براډبیس او پراخ بنسټی حکومت :

٤ - براډبیس یا پراخ بنسټی حکومت چی ټولی دنیا دهغه دمنلو پخاطر په مونږ باندی فشار او زور راوړی چی باید جوړیي کړو هغه هم مونږ رد کړی او ( نه ) مو ورته ویلی دی ،داځکه چی که ددنیا والو مقصد له براډبیس حکومت څخه هغه حکومت وی چی دافغانستان دټولو مسلمانو ډلو نمایندگی پکښی وی نو مونږ به داسی حکومت جوړ کړی وای چی دشلو تنو په ځای څلویښت اویا هم شپیته تنه وزیران پکښی شامل وای .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حتی دغه موقت حکومت چی جوړشوی ؤ دهغومره اکثریت نمایندگی یی کوله چی په ټوله دنیا کښی هیڅ حکومت له دومره اکثریت څخه برخمن نه ؤ - کله به هم چی مونږ چاته ویل چی زمونږ حکومت په رسمیت وپیژنی،نو دابه یی راته ویل چی ستاسو حکومت براډبیس حکومت ندی ، خو که دالنډ تاریخ مطالعه او وڅیړونو وبه گورو چی په ټوله دنیا کښی دتره کی څخه چا داپو ښتنه او غوښتنه ونکړه چی ته دی حکومت براډبیس کړه بیا به یی په رسمیت وپیژنو - حال داچی ترکی د اته لس ملیونه افغانانو له جملی څخه یوازی دپنځه زره خلقیانو نماینده گی کوله او دا ددوی دخولی خبره اواعتراف دی .

اوسره ددی چی ټولو ته داخبره معلومه وه چی دی او دده حکومت دافغانستان د ولس نمایندگی نکوی او ټول دحکومت غړی یی دخلق دباند پیژندل شوی غړی وو اوسره ددی چی دافغانستان دولس اوددین او ناموس

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**